سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۰۱/۲٤

# تیاره

لمر راختلی، خو تیاره خوره ده
شپه سبا شوی، خو لا شپه خوره ده

که سر مو پټ شی، شي پښي مو لوڅې
د ژوند پرده ، په مونږ کږه خوره ده

زما د کلی په هوا، او ځمکه
څه بوګنونکی، ننداره خوره ده

ښکاری آسمان یی، هم عاجز وی له حل
په مونږ چی کومه، معضله خوره ده

وینو هرخه، خو هیڅ شی نه پیژنو
په دواړو سترګو، مو پرده خوره ده

د کروندو، ځمکه یی هم و نیوه
په غرو رغو، هم هدیره خوره ده

اوس به د چا لمن، په لُور خوره شی
د مور لمن، په جنازه خوره ده

که را ژوندۍ نکړو، مړه مینه زړوکی
تیاره د زړونو، په کعبه خوره ده

تورنتو - کاناډا



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی.



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com